PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت درېیم کال، ۴۴ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۴ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د سلواغې ۱۲ مه د۱۴۳۳ هـ ق د ربیع الاول ۹ مه د۲۰۱۲ م د فبروری لومړی

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتینې مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگـر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعـت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

جوابیه حزب اسلامی افغانستان بر تبصره مؤرخه نهم دلو روزنامه آرمان ملی

صفحه دوم

حکومت: له قطر پرته په نورو هیوادونو کې هم له طالبانو سره خبرې کیدلې شي

کابل، پژواک:
د حکومت د رسنیو د مرکز مشر وایي، حکومت له وسلوالو مخالفینو سره د خبرو په موخه د قطر له دفتر پرته د بلې مرجع په لټه کې نه دی، خو کېدای شي په نورو هېوادونو کې هم له طالبانو سره خبرې وشي.
شاوخوا دوې میاشتې مخکې د امریکا متحده ایالتونو، قطر او جرمني وپتیله، چې په قطر کې وسلوالو طالبانو ته د سولې د خبرو په موخه دفتر پرانیستل شي، چې د افغانستان دولت هم وروسته ورسره هوکړه وکړه.
خو بي بي سي راډیو تېره ورځ وویل، مونږ لې یې ده، چې د افغانستان حکومت په راتلونکو څو اونیو کې، په سعودي عربستان کې له طالبانو سره خبرې پیلوي.
ځینې نورو رسنیو هم د سعودي عربستان له لارې د افغانستان د دولت او وسلوالو مخالفینو تر منځ

پاتې ۴ مخ

خروج زود هنگام فرانسه از افغانستان انگیزهٔ برای خروج زود هنگام سایر اعضای ناتو از این کشور است

واشنگتن، رسانه ها:
یک مقام سابق قصر سفید اظهار داشت:
تصمیم فرانسه براي خارج ساختن سریع نیروهاي نظامي کشورش از افغانستان پیش از موعد مقرر، ضربه‌اي بر اقدامات جنگي امریکا و عاملي تحریک‌آمیز براي "خروج فوري" نیروهاي سایر اعضاي ناتو است.
به گزارش گران افغانستان، به نقل از خبرگزاري فرانسه، "دامون ویلسون"، معاون اجرایي رئیس شوراي اتلانتیک و یکي از مقام‌هاي سابق قصر سفید گفت: اظهار نظر غافلگیرانه نیکولا سارکوزي، رئیس جمهور فرانسه درباره خروج نیروهاي این کشور از

بقیه در صفحه ۴

په کابینه کې د ژور بدلون امکان!

◆ یو شمېر اوسني وزیران به په نورو وزارتونو وګمارل شي

◆ محمد اسماعیل خان، جارالله منصوري او ثریا دلیل به له خپلو دندو ګوښه کړی شي

تاند:
ځیني باروي سرچینې چې د چارو په اداري او د ولسمشری په ماڼۍ کې له وروستیو پریکړو خبري دي وایې چې ډېر ژر به د حکومت په کابینه کې پراخ بدلون رامنځ ته شي.
د چارو د اداري یوې سرچینې چې د د سرچینې په خبره یو شمیر اوسني وزیران به موضوع د حساسیت له کبله یې نه غوښتل نوم یې واخیستل شي نن وویل چې د ولسمشر له حکم سره سم به ځیني اوسني سرپرست او کلیدي وزیران له دندو لري او پر ځای به یې له بهر او دننه څخه یو شمیر نوې څېرې په دندو وګومارل شي.
هم په بدلو دندو یعني نویو وزارتونو کې د وزیرانو په توګه وټاکل شي.
په دغو بدلونونو کې احتمالاً د اوبو او بریښنا وزارت سرپرست وزیر محمد اسماعیل خان له دندې ګوښه او ورته بل وزارت نه سپارل کیږي.

پاتې ۴ مخ

شک و تردید در مورد اهداف سفر وزیر خارجه پاکستان به افغانستان!؟

کابل، رسانه ها:
شماری از اعضای مشرانو جرگه و کارشناسان امور به اهداف سفر وزیر خارجه ی پاکستان به افغانستان به دیده شک می نگرند.
وزیر خارجه پاکستان در حالی به کابل سفر می کند که از پیشرفت ها در زمینه مذاکره میان امریکا و طالبان در قطر سخن گفته می شود.
به گفته ی مقام های افغان، حنا ربانی کهر وزیر خارجه پاکستان به روز چهارشنبه به کابل می آید و با مقام های افغان در مورد

بقیه در صفحه ۴

په عراق کې دتېلو د نوی لوبې پیل

عبدالله کامه وال

دعراقي حکومت او امریکایی کمپنیو ترمنځ تاوتریخوالی اوج ته رسیدلی ایکسوی امریکای کمپنی دعراق پرټولو تیلو خیټه اچولې او عراقیانو ته تری هیڅ هم نه ورکوي.
که دعراق جنګ ته دتیلو اوسوند موادو جنګ ونه وایو نو دا خو به ضرور وایو چې داجنګ پرعراقي معدنیاتو دکنټرول اوقبضې جنګ دی داخو ټولې نړۍ ته معلومه ده چې عراق داسې یو هیواد دی چې دپیداوار لویه منبع یې تیل دي په نورو هیوادو خرڅوي او په خانګړې توګه په غربي هیوادویې خرڅوي
په ۲۰۱۰ په وروستو کلو کې دعراق نوي حکومت ته داضروري وه چې دعراق بیا رغونې او نظام جوړونې اودتیلو دزخایرو په پراختیا او پرمختګ کې یې کوټلي ګامونه اخیستي وای.
امریکا اوغربي نړۍ نن سبا پدی فکر ده چې څنګه په راتلونکې کې دتیلو ارزانه اواسانه لاره پیداکړي اوڅنګه دتیلو په نړۍ وال بازار انحصار ولري نو په همدې موخه دواړه قوتونه پرعراق اولیبیا دتیلو د ذخایرو د ولکې په منډه کې یو له بله مخکې کیږي. دډګروال قذافی دحکومت ترنسکوریدو وروسته فرانسه اونورغربي هیوادونه غواړي چې دلیبیا دموقت حکومت سره نوي تړونونه لاسلیک کړي خو تردې دمه پدې کار کې نه دي کامیاب شوي څکه چې دلیبیا پلازمینې طرابلس کې تردې دمه سیاسي اړودوړ نه دی سم شوی اوحکومت پداسې حالاتو کې داډول مهم تړونونه نه شي لاسلیک کولې خو ددی برعکس په عراق کې دتیلو امریکایي کمپنی چې (Exxon Mobil) په نومیږي چې په امریکاکې دتیلو ترټولو ستره کمپنی ده په عراق کې خپلې پښې کلکې کړی دي...

(پاتې درېیم مخ)

سوریه در آتش منافع آزمندان

ابو عبدالحسیب

صفحه سوم

له طالبانو سره د امریکا د اړیکو هدف څه دی؟

کابل، رسنۍ:
په کابل کې د امریکا د سفارت چارواکي وایي، چې د طالبانو او امریکا ترمنځ له سره د سولې خبرې نشته بلکې روانې هلې ځلې تولې د افغانانو ترمنځ خبرو ته د زمینې د برابرولو لپاره کیږي.
د امریکا د سفارت مرستیال جیمز کننګهام په کابل له خبریالانو سره په خبرو کې له وسلـه والو طالبانو سره سوله یوه افغاني مساله وبللـه او ویې ویل، چې دوی غواړي یوازې د یوه مرستندویه رول په کې ولوبوي.
نوموړي وویل، دوی چې له هر چا سره خبرې کړي هدف یې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ خبرو ته لاره هوارول دي:
"زموږ او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې نشته، موږ له طالبانو سره خبرې کړي او په سیمه کې له ډېرو خلکو سره خبرې کوو، خو د دې هدف دا دی، چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د ریښتینو خبرو پیل ته لاره پیدا شي."
ښاغلي کننګهام وویل، له طالبانو سره د امریکا د سولې خبرې نه دي شوي او نه هم په قطر کې د طالبانو لپاره د دفتر د پرانستلو کارونه نهایي شوي.

پاتې ۴ مخ

راسموسن: ناتو همچنان به برنامه قبلی خروج خود از افغانستان پایبند است

بروکسل، گران افغانستان:
سرمنشی عمومی سازمان پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) گفت که ناتو همچنان به برنامه قبلی خروج خود از افغانستان پایبند است.
به گزارش گران افغانستان، در حالی که نیکولا سارکوزي، رئیس جمهور فرانسه اخیرا از خروج نیروهاي این کشور از افغانستان یکسال زودتر از موعد قبلي خبر داده بود، آندرس فوگ راسموسن، سرمنشی عمومی سازمان پیمان اتلانتیک شمالي (ناتو) در دیدار با ترایان باسسکو، رئیس جمهور روماني اظهار داشت که ناتو همچنان به تعهدات قبلي خود براي واگذاري و انتقال قدرت به نیروهاي امنیتي افغانستان تا پایان سال ۲۰۱۴ پایبند است.
به گزارش خبرگزاري فرانسه، راسموسن اعتراف کرد که مرحله نهایي انتقال قدرت به افغان‌ها که شامل دادن مسئولیت تمام ولایت ها و ولسوالی ها به دولت افغان است از اواسط سال ۲۰۱۳ آغاز مي‌شود.
وي گفت: در هر صورت ناتو طبق برنامه

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د رحمة للعالمین اُمت ولې له رحمت نه محروم دی؟!

د نړۍ مسلمانان د ربیع الاول دولسمه ځکه لمانځي چې غالباً په دې ورځ د کائناتو سردار رحمة للعالمین محمد صلی الله علیه وسلم نړۍ ته تشریف راوړی و.

په دې ورځ ډېر مسلمانان خیراتونه کوي او روژې نیسي، علماء، خطیبان، لیکوالان، شاعران او ادیبان محمد صلی الله علیه وسلم ته د پیرزوینې او عقیدت ګلونه وړاندې کوي، دهغه صلی الله علیه وسلم محاسن او مناقب بیانوي، لنډه دا چې ټول مسلمانان د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت او نبوت خپل خوښي او خوشالي څرګندوي، خو ډېر افسوس چې هغې بنیادي ټکي ته پاملرنه نه کوي چې دهغې رعایت کول ضروري او حتمي دي. که یو مسلمان په ژبه له محمد صلی الله علیه وسلم سره څومره د مینې او عشق خبرې وکړي او څومره درودونه ورباندې ووایي تر هغه د ایمان او اسلام صحیح مقام نشي ګټلې تر څو پورې چې د خپل ژوند ټولې کړنې د محمد صلی الله علیه وسلم په پیروي او اتباع کې نه وي ترسره کړي، له خپل ځان، اولاد او ټولو خلکو څخه یې زیات محبوب نه وي ګڼلي ځکه چې الله تعالی مؤمنانو ته همدا حکم کړی دی چې: بېشکه نبي پر مؤمنانو له خپلو ځانو څخه مقدم دی، دا لارښوونه یې هم ورته کړې چې له الله او دهغه رسول نه مه مخکې کېږئ یعنې له خپل ځانه فیصلې مه کوئ بلکې وګورئ چې د الله په کتاب او دهغه د رسول په سنت کې څه لارښوونه شوې؟

له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مسلمانانو د مینې او محبت لپاره لازمي شرط او پیمانه دا ده چې هغوی خپل ټول ژوند دهغه صلی الله علیه وسلم د سنتو په مطابق او دهغه په پیروي کې تیر کړي ځکه چې لوی الله له محمد صلی الله علیه وسلم سره د مینې درلودلو لپاره دا خبره ضروري ګرځولې ده چې دهغه اتباع او پیروي وکړی شي. همداراز د یو انسان، پر الله جل جلاله د ایمان او د مینې دعوه هم تر هغه د حقیقت بڼه نه شي خپلولې تر څو پورې چې د محمد صلی الله علیه وسلم بشپړه اتباع پر ځان نه وي فرض کړې.

الله تعالی محمد صلی الله علیه وسلم دې لپاره نه دی استولې چې صرف دهغه مدح او صفت بیان کړی شي او یا هم د تبرک دترلاسه کولو لپاره د وسیلې په توګه وکارولې شي، بلکې دې لپاره یې استولې چې هغه صلی الله علیه وسلم پخپل ټول ژوند کې مقتدی او پیشوا وګڼل شي.

په قرآن کریم کې الله تعالی مسلمانانو ته دا فرمایلي دي چې: ستاسې لپاره د محمد صلی الله علیه وسلم په کارونو کې غوره طریقې او بېلګې دي، مطلب دا چې په هر کار او معامله کې دهغه صلی الله علیه وسلم پیروي وکړئ.

یوه ورځ محمد صلی الله علیه وسلم اصحابو کرامو ته وفرمایل چې زما ټول امت به جنت ته ځي مګر هغه څوک به نه ځي چې انکار وکړي، اصحابو پوښتنه وکړه چې انکار کوونکي څوک دی؟ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه بېشکه جنت ته لاړ او چا چې زما له اطاعت نه سرغړونه وکړه هغه بېشکه انکار وکړ.

الله تعالی پخپل کتاب قرآن کریم کې ددې خبرې وضاحت هم په څرګندو ټکو کې کړی دی چې هر چا د محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړ هغه په حقیقت کې د الله تعالی اطاعت وکړ. معنا دا چې تر څو پورې د محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت ونه کړی شي د الله اطاعت ممکن نه دی، د الله تعالی اطاعت هله متحقق کېږي چې د محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت او پیروي وکړی شي.

ډېر د افسوس ځای دی چې نن د رحمة للعالمین محمد صلی الله علیه وسلم امتیان د خپل رسول له فیض او رحمت نه محروم ګرځي، پر ژبه خو د محمد صلی الله علیه وسلم نوم په ډېره مینه اخلي مګر د عمل په ډګر کې دهغه پر نقش قدم نه ځي.

نه څوک دهغه صلی الله علیه وسلم د سیاست لاره تعقیبوي او نه هم د اخلاق، سخاوت، فیاضي، همدردي، عدالت، اجتماعیت، تواضع، زغم، انسان دوستي، بشر پالنه، د مخلوق خدمت، مساوات، رحم، عاطفه، تقوی، د حلال روزي ګټل او داسې نور غوره مواصفات پخپلو ځانو کې پیدا کوي. تقریباً هر څوک د خپلو نفساني غوښتنو او شخصي ګټو غلام ګرځېدلي دی، چېرته هم د محمد صلی الله علیه وسلم د اتباع او اطاعت څرک نه تر سترګو کېږي، دهغه ستر اخلاق لرونکی پیغمبر امت چې الله جل جلاله د (انک لعلی خلق عظیم، رسول امین او رحمة للعالمین) په اوچتو لقبونو سره موصوف کړی دی پخپلو کې تیت پرک، او له یو بل سره لاس او ګریوان دي، د پارلمان او د مشرانو جرګې غړیو د یو بل په خلاف مورچلې نیولې دي، سیاسي مشران، علماء، پوهان، لیکوالان، استاذان او شاعران د یو بل په مقابل کې د دښمنۍ په مورچلو کې ناست دي، هر لوری د ظلم او بربریت اوربل دی، بیت المال د څو محدودو اشخاصو په لاس لوټېږي، په عدالتونو کې د عدل او انصاف جنازه وتلې ده.

آیا یواځې د ربیع الاول په میاشت کې د محمد صلی الله علیه وسلم د مبارک ولادت په مناسبت جشن جوړول او لمانځل به زموږ په سر پروت هغه مسؤولیت لرې کړي چې الله او دهغه رسول زموږ پر غاړه اچولی او د محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو د اتباع او اطاعت حکم یې کړی دی، آیا یواځې همدا کار به زموږ لپاره د کامیابی او نجات ذریعه وګرځي؟ ځواب یې څرګند دی چې هرګز نه. ځکه چې الله تعالی پخپل کتاب قرآن کریم کې او محمد صلی الله علیه وسلم پخپلو احادیثو کې د مسلمان امت بری او نجات د محمد صلی الله علیه وسلم په بشپړ پیروي او اطاعت کې اېښې دی. راځئ ټول په ګډه له خپل لوی او پالونکی ذات سره کلکه ژمنه وکړو چې خپلې ټولې چارې به د محمد صلی الله علیه وسلم په اتباع او طاعت کې ترسره کوو او په دې توګه به له ټولو کړاوونو او ناخوالو څخه نجات ترلاسه کوو.

جوابیه حزب اسلامی افغانستان
بر تبصره مؤرخه نهم دلو روزنامه آرمان ملی

احمد شاه «وحدت» Ahmad Shah WAHDAT Mobile: 0700252598 Email: ahmedshahwahdat2@yahoo.com

آرمان ملی
ARMAN-E MILLIE DAILY
عقد قرارداد ها باید ضمانت اجرایی داشته باشند
گلبدین حکمتیار نمی تواند در کشور به نام حزب اسلامی افغانستان فعالیت کند
حزب اسلامی هم اکنون در شاهرگ های دولت جا گرفته است
استخبارات پاکستان زارعان هلمند را به کشت کوکنار تشویق می کند
آی اس آی و طالبان پنجاه در صد مصارف جنگی شان را از ترپاک تمویل می نمایند

پس از حادثه یازدهم سپتمبر ۲۰۰۱ و هجوم ایالات متحده امریکا بر نظام طالبان که به امارت اسلامی مسمی شده بود از جمله جهت هائی که خواستند در عقب این جبهه به نفع خویش بهره برداری نمایند کمونیست های سابقه اعضای (خلق، پرچم، شعله جاوید) بودند. خاصتاً کسانی که از قرار داشتن در پیشاپیش ارتش سرخ شوروی و جهت گیری های ناعاقبت اندیشانه برای تشدید جنگ های داخلی میان گروه های مجاهدین عبرت نگرفته بودند فرصت آمدن قوای خارجی را پس از یازدهم سپتمبر غنیمت شمرده به گمان آن افتادند که به آن رویاهای شیرینی که ده سال اشغال شوروی و پیمان وارسا و قتل و کشتار اوشان را نرسانیده از طریق خدمتگذاری به قوای ائتلاف بین المللی خود را برسانند و چه بسا که با رسانیدن اطلاعات دروغین و بافتن داستان های کاذبانه، چقدر بمباردمان های کورکورانه قتل و کشتار زن و کودک معصوم را سبب شده باشند. و در این جبهه گیری های عقده مندانه خود را کارشناس، نظامی، استخباراتی، اطلاعاتی، سیاسی و فرهنگی جا زده اند و برای رسیدن به اهداف نهفته در ضمیر آگنده از ظلم، جور و جنایت از این عناوین استفاده ناروا مینمایند.

از جمله این چهره ها شخصی بنام احمد سعیدی است او که مدتی را در پشاور کارمند قونسلگری بوده و از کجائی معلومات هائی را به چه ذریعه بدست آورده باشد اکنون به درجه کارشناس سیاسی رسیده و خود را مرجع مؤثق معلومات و تحلیل وانمود می نماید. و اگر جهت های بخواهد بر حریفان سیاسی خود هجوم آورد زبان و قلم او را به کرایه می گیرد.

از جمله تبصره مغرضانه تاریخی نهم دلو او در روزنامهٔ آرمان ملی در رابطه با حزب اسلامی است و ما برای توضیح مطلب نشر شده ذیلاً می پردازیم:

حزب اسلامی افغانستان به اتفاق کامل شورای تصمیم گیری تنظیم و همه شخصیت های مهم حزب هیأت دوازده عضوی ایرا به منظور تفاهم با مقامات مسؤول دولت انتقالی اسلامی افغانستان موظف نموده بود که با استقبال گرم دولتمردان وقت روبرو گردیده و بحیث یک حزب رسمی در سراسر افغانستان به کار آغاز نمود که از آن وقت تا کنون در همه جریانات سهم خود را داشته است. و در دو دوره انتخابات پارلمانی حصه گرفته در شوری های ولایتی، ولسی جرگه و مشرانو جرگه اعضای این حزب رول برجسته داشته و همه با آن آشنائی دارند.

ما باور داریم هرگاه عدهٔ از شخصیت های مورد اتفاق همه عقده مندانه از لست نامزدان ولسی جرگه حذف نمی گردید و انتخابات شفاف انجام می یافت حزب اسلامی هفتاد الی هشتاد عضو در ولسی جرگه موجوده می داشت، اکنون هم باوجود همه ممانعت ها و عدم شفافیت انتخابات بیش از ۳۰ عضو از اعضای ولسی جرگه افتخار عضویت حزب اسلامی افغانستان را دارند.

شخصیت های معروف و اعضای حزب اسلامی در همه دوران مقاومت در تائید سیاسی از شهید بزرگوار استاد برهان الدین ربانی قرار داشته و قوماندانان و مجاهدین حزب در همه سنگرها عناصر مهم مقاومت بوده اند و با برگشت استاد به کابل در قوس ۱۳۸۰ در تائید و حمایه از اوشان همسفر راه شان بوده اند.

اقای سعیدی باید میدانستند که حزب اسلامی بحیث کتلهٔ عظیم ملت افغانستان با داشتن ملیون ها عضو و هوادار هیچگاه هم از عرصهٔ سیاسی کشور ما چه به حیث شخصیت ها و چهره های جهادی و چه به حیث تنظیم غایب بوده نمی تواند، خاصتاً پس از تشکیل دولت انتقالی اسلامی افغانستان تا امروز رسماً موجودیت دارند که این حضور نه مرهون ترفند کسی است و نه تلاش و مهارتی و نه هم به مکر و فریب ضرورت بوده است که کسی مرتکب آن شده باشد.

اکنون با توجه به عوامل قانونی در ثبت و راجستر احزاب سیاسی ایجاب می نماید همه آنهائیکه از محیط هجرت برمیگردند هر عاملیکه تا کنون مانع آمدن شان به وطن بوده باشد به تشکیلات حزب اسلامی افغانستان در کابل مراجعه نموده و در جستجوی سرنوشت سیاسی و تنظیمی خویش گردیده و یا آنکه راه جدیدی را درپیش گیرند.

تفاهم دولت و شورای عالی صلح با جناح های نظامی مخالف مطابق فیصلهٔ دو مجلس بزرگ (جرگهٔ مشورتی صلح و لویه جرگهٔ عنعنوی) صورت میگیرد و منسوبین حزب اسلامی در حد مسؤولیت در شورای عالی صلح به آن فیصله ها متعهد و بدون از نظر انداختن جهتی و توجه خاص به جهتی مسؤولیت خود را ادا می نمایند.

حزب اسلامی خواهان آنست که هر نوع تفاهم و مذاکره در رابطه با صلح در داخل وطن صورت گیرد و باز شدن هر دفتری را در خارج از کشور تنها به منظور ایجاد سهولت در امر تفاهم می خواهد نه به عنوان امتیاز و دفتر به کدام جهتی.

آقای سعیدی باید بدانند که جامعه جهانی هرگز هم بخاطر تحمیل حکومتداری ناکام کدام شخص و یا مجموعه در اینجا به صرف پول و قربانی فرزندان خود دوام نمی دهد و اگر چنین می بود امریکا تماشاگر سقوط مرگبار نگوین وانتیو و نظام او در سیگون نمی شد، آنها بخاطر جواب به صدها ملیون انسان مالیه دهنده کشورهای شان و انتظار زنده برگشتن فرزندان شان برای یافتن راه حل با جهت های مختلف بحران در افغانستان در تماس و مذاکره خواهند شد، و نتایج این مذاکرات و تفاهم هرگز هم این نخواهد شد که جهت های جنگی که تا سرحد انتحار برای رسیدن به هدف آماده مقابله اند به پابوسی آقای احمد سعیدی بیایند. در سایه همین قانون اساسی و پذیرش آزادی های مندرج در آن، با میزان تائیدگران و حامیان شان خود و هواداران شان یا در ارگ ریاست جمهوری خواهند نشست و یا شاهرگ های آنرا اشغال خواهند کرد. هرگاه برای آقای سعیدی تطبیق کننده بی قید و شرط دیکتاتوری پرولتاریا و آشتی ناپذیری سرسختانه و معاندانه با امپریالیزم جهانخوار تغییر موقف و شعار و سمت خدمتگذاری مشکل نباشد، رفع شکر رنجی طالبان و سایر مخالفان که در نحوه تعبیر دیموکراسی و تطبیق آن در اختلاف افتاده اند هم مشکل نخواهد بود.

در صفحه دوم اخبار همان روز آقای سعیدی به رسم عادت برای فتنه انگیزی در میان احزاب و شخصیت های جهادی تبصره ای خصمانه در رابطه با استاد عطا محمد نور والی بلخ داشته است. بخاطر اطفأ فتنه شان باید نگاشت که با تاسف رقابت های میان قوماندانان جهادی در میان افراد عین تنظیم و زیر عین شعار و بیرق هم نادر نیست. ولی در ولایت بلخ اختلاف میان حزب و جمعیت در حدی نبوده که چشمان آقای سعیدی را روشن گرداند، عطا محمد نور برادر مجاهد ما، نوردیده ما و مردی قابل قدر است که والی برحال نظام موجوده جمهوری اسلامی افغانستان می باشد اگر در نظام او کوتاهی و نواقصی موجود باشد شاید از سایر بخش های نظام بمراتب کمتر باشد ما همچنانکه به واگذاری یک وجب این وطن برسم امتیاز به مخالفین مسلح نظام موافق نیستیم این فهم آقای سعیدی را هم ناشی از فتنه انگیزی ضمیر او می دانیم که گویا ولایت بلخ برسم امتیاز و برای مقابله با جهت هائی به استاد عطا محمد نور داده شده باشد. ما خود، استاد عطا محمد نور و همه مجاهدین را در پناه پرورد گار عالمیان از شر وسوسه های همچو خناس ها می خواهیم، که با تبصره های فتنه گرانه میان ما اختلاف ایجاد نمایند.

په عراق کې دتیلو د نوی لوبې پیل

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...دامریکایي کمپنیو ترڅنګ دبرتانیې دتیلو لویه کمپنی هم شاملې دي چې پدوی کې شیل اوبی پی کمپنی خپلې ښې کلکې ښخې کړې دي. امریکا په عراق کې دنوي حکومت په جوړېدو اودتیلو په ذخایرو کنترول او پدې تجارت کی دشرکیدو په لاره کې یی مهم رول ولوباوه، دامریکې دخامو تیلو کمپنیو دجنګ په دوران کې هم د پټرولو له وزیر سره په رابطه کې وو، یوه مهمه خبره داده چې له عراقه د امریکایي فوځونو له وتلو وروسته هم ځیني فوځي دستې دعراق پرتیلو څارنه کوي دعراق دجنګ پرمهال هم امریکایي قواو، نه غوښتل چې دتیلو پر ذخایرودې دعراقي فوځیانو کنترول وي ځکه هغوي ویره درلوده چې که دعراق فوځ پر تیلو کنترول ولري نو امریکا لپاره مشکلات پیداکړي. داخبره ډیره روښانه ده چې عراقیان نو ته یی دنیفتو په ذخایرو دساتنې واک نه وه حاصل داخو ټولو ته څرګنده ده امریکا اوغربي نړی ته تیل څومره ارزښتمن دي دعراق پرتیلو دامریکا قبضه ده اوامریکا له عراق سره دفوځي مرستو یو شرط دادی چې دعراق دتیلو لویه برخه به امریکا ته ورکوي اوهمدی کبله دعراق حکومت دغربي نړی دتیلو له ازادو کمپنیو سره له کارکولو عاجز دی اوکه چیري دنورو کمپنیو سره کارکول غواړي نو سخت شرایط یی ورته ایښي دي اوکه چېرې کومه کمپنی وغواړي دتیلو په قرارداد کې شریک شي نو هغوی به قرارداد دامریکا له قانون سره سم کوي هره هغه کمپنی چې غواړي دعراق سره دتیلو قرارداد وکړي نو په هر بیلر به دوه ډالر ټیکس ورکوي امریکا ته دعراق په شمال کې چې کومې کمپنی کار کوي هغه اکثره دبرتانیی کمپنی دي چې دصدام دحکومت پرمهال یی ترون شوی وو خو وروسته دصدام له لورې یی قرارداد ختم شوی و خو نړی دامریکا دورتګ سره سم هغوی هم ښې رالوڅې کړې او دوباره یی خانونه په تیلو کې داخل کړه خو داسې ویل کیږي چې په شمال کې تیل په کمیدو دي، دې خبرې برتانیه پریشانه کړی چې دتیلو سترې زخیرې دامریکا په ولکه کې دي اودوی ته هغه شان چې پکارده برخه نه ده ورکړشوی پرعراق ترحملې مخکې په نړی وال مارکیټ کې دیو بیلر تیلو قیمت ۲۵ ډالره وخودامریکا ترحملې وروسته دا قیمت دوه برابره شو، ددې علت دادې چې هغه تیل چې نورې دنیا ته عرضه کیده هغه بند شو او دتیلو په نړی وال مارکیټ کې تیل کم شو اوچې څومره جنګ اوږدیدو په همغه کچه دتیلو بیه هم لوړیده چې په ۲۰۰۸ کې دیو بیلر بیه ۱۴۰ ډالر ته لوړه شوه چې دادتیلو ترټولو لوړه بیه وه. دتېلو دلوړیدو بل علت دادی چې دتیلو ترټولو ستره منبع منځنې ختیځ دی اودعراق د جنګ اغیز پرمنځنې ختیځ ترنورو سیمو زیاته او منځنې ختیځ دغرب لپاره دتیلو ستره منبع وه اوهغه دعراق دجنګ سره خورا زیانمنه شوه دعراق پرتیلو دامریکا قبضه ساده نه ده بلکې له ټولو نړی والو تجارتي نورمونو اوموازینو پرخلاف ده اوامریکا دعراق تیل خپل ملکیت ګڼی اوهغه قراردادونو ته هم ژمن نه دی چې دعراق له دولت سره کړې د مثال په ډول دامریکا دتیلو ستری کمپنی ایکسون موبایل دعراق له دولته په زیاته پیمانه اوارزانه بیه تیل اخیستل اویو اندازه پیسې یی دعراق حکومت ته ورکولې خو پدې وروستیو کې یی دپیسو له ورکولو انکاروکړ اواوس ایکسون کمپنی دعراق تیل په بدمعاشی وړي چې دې کار دعراق ددولت او امریکا ترمنځ تاوتریخوالی زیات کړی دعراق صدراعظم نورالمالکی اودپارلمان ریس اسامه النجفی دا مسئله څو واره دامریکایی مقاماتوسره شریکه کړه خو کومه فایده یی وه نه کړه، تیل همغه شان له عراقه روان دي او امریکا هم خپلې بدمعاشی ته دوام ورکوي.

له پردو سره پخلا او پخپلو کې مرورتیا، کوم غیرت دی!؟

محمد خلیل

افغانان هم کولې شي چې خپلواک او د عزت ژوند تېر کړي، په جګو سترګو او هسکه غاړه وګرځي. هېڅ هېواد دهغوی په کورنی او شخصي چارو کې لاسوهنې ونه کړي او خپلې چارې پخپله خوښه پرمخ بوځي، خو دا هله چې د خپل ځان قدر او قیمت وپیژني، غیرتي او با ضمیره واوسي، لوړ احساس او متین عزم پیدا کړي، له غلامي نه کرکه او په خپلواکی مئین شي، خود داره او خود اعتماده شي او د خپل ولس پر ملهو تکیه وکړي.

د افغانستان وګړي چې د بهادری او شجاعت روښان تاریخ لري او نړی دهغوی حوصلو ته سلام کوي نن هم کولې شي چې خپلې کورنی لانجې پخپله حل کړي، بل څوک دهغوی سرپرستي ونه کړي، افغانستان د ازموینې لابراتوار ونه ګرځوي. په یو هېواد او بل هېواد کې د راغونډېدو او جرګه کېدو پر ځای پخپل هېواد کې راجرګه شي، له نورو سره د مشورو پر ځای پخپلو کې مشوره ورکړي او د یو بل حیثیت ومني.

څنګه چې د نورو هېوادو ولسونه زمکه، غرونه، سیندونه ذخائر، باغونه او سرحدات لري همداراز افغانستان هم خپلې زمکې، غرونه، سیندونه، باغونه سرحدی پولې او غیرتي ولس لري، که هغوی د خپلو هېوادو او ولسونو د دفاع او ګټو لپاره په افغانستان کې لاسوهنې کوي او په افغانستان کې خپلې ګټې تأمینوي نو د افغانستان هغو سیاسي ډلو او مشرانو ته شرم او خجالت پکار دی چې پردیو ته پخپل لاس د مداخلې زمینه برابروي. او دهغوی د فریب په لومه کې ننبلي.

له خپل هېواد، ولس او استقلال سره د مینې لازمي غوښتنه داده چې ټول مشران او کشران په افغانستان کې د خپلو ګټو د تأمین په سر جنګېدونکو هېوادو ته ووایي چې تاسې پخپلو پخپلو ځایونو کې آرام کینئ، موږ له تاسو سره د برابری او متقابله احترام په بنسټ دوستانه او ګاونډیتوب اړیکې غواړو، څومره چې تاسو ته خپل مفادات محترم دي همغومره موږ ته هم خپلې ګټې مهمې دي، په هر څیز کې به ذره ذره حساب کوو او هر ګام به په ټول برابر اخلو، په اړیکو کې به څوک بادار نه جوړېږو او د باداري او غلامي تصور به له مغزو وباسو.

څرنګه چې تاسې له ګردې نړی سره د ژوند په مختلفو ډګرونو کې د دوستی او مرستې د تړونونو اختیار لرئ همداسې موږ هم واک او اختیار لرو، څرنګه چې تاسې پخپله خوښه د ولس په مستقیمو اراو دچا له مداخلې او فرمایش پرته د حکومت جوړولو حق لرئ موږ هم لرو.

که د افغانستان ټولو ښکیلو او مطرحو اړخونو همدا کړنلاره خپله کړه او د خپلو مسائلو د حلولو لپاره پخپلو کې سره راجرګه شول، خپل ټولې شخصي غوښتنې او ګټې د هېواد او ولس له ګټو نه قربانې کړي نو هیڅ داسې مشکل او خنډ نشته چې افغانستان د نورو مغرضو هېواد له لاسوهنې څخه خلاصون، او افغانان د نړی په سر عزت او لوړ مقام ترلاسه نه کړي.

سوریه در آتش منافع آزمندان

ابو عبدالحسیب

از آغاز نهضت افتخار آفرین بهار عرب تا کنون هفت هزار مرد مبارز، زن و کودک قربانی رژیم بشارالاسد گردیده است. این رژیم جنایتکار شهرهای آمن، قراء و قصبات را مورد هجوم توپ، تانک، طیاره قرار می دهد، مناطق مختلف پایتخت کشورش و شهرهای بزرگ آنرا در محاصره می گیرد. تا صدای مخالفین رژیم تحمیلی اش را خاموش کند و آنگاه آزمندان جهان بی شرمانه زمزمه نمایند که گویا مخالفت ها علیه رژیم پایان یافته و بشار الاسد بر اوضاع مسلط گردیده است.

امروز صبح مصاحبه بی بی سی را با یکی از مسؤولین روسیه شنیدم که بهانه حمایه او از دیکتاتور تحمیل شده بر سوریه را در شوری امنیت ملل متحد در برابر طرح پیشنهادی اتحادیه عرب نفوذ عربستان سعودی در این اتحادیه می خواند که گویا عربستان سعودی با رژیم بشار الاسد که حافظ منافع ایران در منطقه است مخالفت دارد.

چشم این مقام مسؤول از دیدن همه جنایاتی که در حضور ناظران اتحادیه عرب رژیم بشار الاسد مرتکب می گردد عاجز است و یا آنکه ضمیر او در این همه قتل و کشتارها به حرکت نمی آید. و یا آنکه کشته شد گان مردم مسلمان سوریه اند که بخاطر حفظ منافع روس خون آنها باید ریختانده شود تا جای بشار الاسد را نظام دیگری اشغال نکنند که تعهدات این رژیم در برابر روسیه را پشت پا نزند.

این را جز استکبار چه می توان نامید که روسیه بخاطر مصالح تجارتی نظامی و ... خود از رژیمی که بنام جمهوریت از چهل و دو سال به اینسو بشکل ارثی ملتی را به گروگان گرفته حمایه کند. و جای دیکتاتور پدر را دیکتاتور پسر اشغال و هر آنکه سرمخالفت بلند کند بیرحمانه با آخرین مودل سلاح و پیشرفته ترین وسایل حربی مورد هجوم قرار دهد و کشور روسیه چه از عنوان اتحاد جماهیر شوروی و چه هم از عنوان جمهوری فدراتیف براعمال آنها خجالت احساس نکند و از آن تائید و حمایه نماید، و از حق ویتوی خود در حمایه از آن استفاده کند.

از این مسؤول روسی شنیدم که نتایج مداخله ناتو در لیبیا را برخ خبرنگار می کشاند و از عواقب در گرفتن جنگ داخلی در سوریه جهان را برحذر می داشت. آنچه که سف الاسلام پسر قذافی در بیانیه تلویزیونی اش ملت لیبیا را تهدید می کرد که گویا نه لیبیا مانند مصر و تونس است و نه هم پدرش (قذافی) مانند زعمای آنها و دیکتاتور لیبیا ملت خود را تهدید به استعمال قوه می کرد و آن هم پس از قتل عام مظاهره کنند گان مسالمت آمیز ادعا می کرد که تا هنوز قوه استعمال نکرده است و شهر بنغازی آزاد شده از تسلط جور و نارواي خود را به قتل عام تهدید مینمود، نمی دانم روس ها به کدام بزر گواری قذافی سو گند یاد می نمایند که گویا توسط ناتو پامال شده باشد.

مداخله ناتو و یا هر قوهٔ خارجی در یک کشور آبادی به ارمغان نمی آورد اما دیکتاتورهائی که چهل سال همه خشک و تر یک سرزمین را برای خرید جنگ افزارها به مصرف برساند تا توسط آن مردم خود را سر کوب و فابریکه های بیگانـگان را فعال نگهدارند و حسابی برای آغاز و انجام حکومت شان و نحوه نظام آنها موجود نباشد و مطالبه هر نوع آزادی و مجال تنفس او کسیجن هوا در زیر چکمه های قتل و کشتار اختناق آنها جز از راه مداخله سازمان ملل متحد میسر نباشد، مردم مظلوم بی دفاع چه می توانند بکنند جز اختیار اخف الضررین.

اما گله مندی آنهائی که چشم انتظار شان به آزادی کامل کشورهای اسلامی از اسارت دیکتاتوران جبار است از کشور جمهوری اسلامی است. آنها در حالیکه رستاخیز برپا شده در کشورهای تونس، مصر، لیبیا، یمن و بحرین را بیداری اسلامی خوانده و برای آن جشن گرفته و نه تنها اینکه در افتخار آن خود را سهیم می شمارند که این بیداری را انحصاری به خود نسبت می دهند. چگونه این حرکت را در سوریه وارونه جلوه داده و برای حمایه از نظام بشار الاسد سپاه پاسداران انقلاب اسلامی ایران و حزب الله لبنان را برای سرکوبی حرکت بیداری اسلامی سوق مینمایند. و رسانه های جمهوری اسلامی آنچه را رژیم بشار الاسد برای بدنام ساختن حرکت بیداری اسلامی بی شرمانه تبلیغ مینماید برسانه های ج.ا.ا بلند گوی ادعاهای ننگین رژیم سوریه می شوند. رژیم بشار الاسد مانند اسلاف خود در لیبیا و مصر و یمن مخالفین خود را روزی به القاعده، زمانی به اسرائیل و روزی هم به امریکا نسبت می دهد، همین امروز صبح ماموران رژیم مدعی بودند که گویا از نزد مخالفین نظام سلاح اسرائیلی گرفته شده است. اما این ادعاهای کاذبانه دیگر چهره قیام کنند گان برحق بهار عرب در سوریه را نمی تواند مسخ نماید. و این حرکت را در سرحدات سوریه متوقف گرداند.

ما از جمهوری اسلامی ایران که در هر چهار سال مردم آن برای انتخاب رئیس جمهور جدید به پای صندوق های رأی می روند بنام اسلام و انقلاب اسلامی می خواهیم از یک رژیم دیکتاتوری ارثی بنام جمهوریت حمایه نه نموده و در تائید از بیداری اسلامی که خود عنوان کرده اند در کنار ملت مسلمان سوریه قرار گرفته و در برقراری نظام مورد حمایه همه مردم آن کشور از نفوذ خود استفاده نمایند. و به مردم سوریه هم این زمینه را فراهم کنند که در هر چهار و یا پنج سال آزادانه در پای صندوق های رأی رفته و برای کشور خود زعیم انتخاب کنند و مانند جمهوری اسلامی ایران هیچ کس نتواند بیش از دو دوره خود را بر مقدرات ملت تحمیل کند.

له قطر پرته په نورو هېوادونو ...

د سولې د کېدونکو خبرو راپوررونه خپاره کړل.
خو د افغانستان حکومت د رسنیو د مرکز مشر عبدالحکیم عاشر نن پژواک خبري اژانس ته وویل: "اوس دا چې رسنۍ تبصره کوي، چې ګواکې د افغانستان حکومت په سعودي کې د مذاکراتو د پیل لپاره بله مجرا یا دویمه مجرا لټوي، دا په ټولیزه توګه غلطه ده، په سعودي کې موږ د مذاکراتو دویمه مجرا نه خلاصوو."
د ده په وینا، دفتر به په قطر کې وي، خو د دې امکان شته، چې د سعودي په ګډون په نورو هېوادونو کې هم دغه خبرې دوام ومومي.
عاشر وایي: "هو دا امکان شته، کېدای شي، چې په قطر کې طالبانو ته دفتر پرانیستل شي او په سعودي کې مذاکرات وشي، مذاکرات په ترکیه کې وشي، مذاکرات په افغانستان کې وشي، خو دا چې د افغانستان حکومت په انفرادي ډول بله مرجع جوړه کړي وي او په دې برخه کې بله هڅه وکړي، دا کاملا غلطه خبره ده."
وسلوالو طالبانو ویلي، چې په قطر کې د دوی لپاره د دفتر د پرانیستو په اړه یې له امریکا او نړیوالو سره تفاهم کړی دی.
د خپرو شوو راپوررونو له مخې، د طالبانو پنځه کسیز پلاوی هم قطر ته رسېدلی او د امریکایانو او طالبانو تر منځ د سولې خبرې هم شوې دي.

په کابینه کې د ژور بدلون ...

د کلیو د بیارغاونې وزیر جار الله منصوري پر ځای په قوي احتمال د هلمند اوسنی والي ګلاب منګل ټاکل کېږي خو د منګل له تقرر سره د کرزي په نژدې کړیو کې مخالفتونه څرګند شوي دي.
په همدې توګه ویل کېږي چې د روغتیا سرپرسته وزیره ثریا دلیل او همدا راز د ښاري پراختیا وزیران هم له دندو ګوښه کېږي او پر ځای به یې نوي څېرې را څرګندې شي.
ټاکل شوې چې ګل رحیم اندړ چې په امریکا کې اوسېږي د لوړو زده کړو د وزیر پر ځای په دنده وګومارل شي.
همدا راز د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزیر ضرار احمد مقبل به له دندې ګوښه او پر ځای به یې نوې څېره را میدان شي چې په قوي ګومان د پکتیکا د پخواني والي اکرم خپلواک نوم ورته اخیستل شوی دی.
د کورنیو چارو وزیر بسم الله محمدي پر ځای چې ټاکل شوې له دندې لرې کړای شي د ضرار احمد مقبل، اسدالله خالد نومونه اخیستل کېږي خو تر اوسه نه ده څرګنده چې دغو دوو کسانو دا څوکۍ منلې که څنګه.
ویل شوي چې بسم الله محمدي به د دفاع وزارت ته پیشنهاد شي او اوسنی وزیر رحیم وردګ به، چې د سن او ناروغۍ له کبله د دندې دوام ته لېواله نه دی، په کور کېښنول شي.
تر اوسه پورې کومې داسې سرچینې چې وغواړي په ښکاره یې نوم واخیستل شي د دغو تعیناتو پخلی نه دی کړی. پخوا هم څو ځلې د کرزي په کابینه کې د بدلونونو په باب دې ته ورته خبرونه خپاره شوي خو وروسته هېڅ تغییر نه دی عملي شوی.

خروج زود هنگام فرانسه از ...

افغانستان در سال ۲۰۱۳، ستراتیژي برنامه‌ریزي‌شده و طراحي‌شده ناتو را در مورد مرحله انتقال در افغانستان در سال ۲۰۱۴، زیر سوال برده است.
در نشستي که این هفته قرار است در بروکسل و با حضور وزیران دفاع کشورهاي عضو ناتو برگزار شود، امریکا قصد دارد تا اطمینان حاصل کند که متحدین ناتو همچنان به تقسیم اوقات خروج نیروها پایبند هستند.
دامون ویلسون در نشست شوراي اتلانتیک گفت: امریکا همچون سایر وزراي دفاع کشورهاي عضو ناتو، قصد دارد بار دیگر بر اظهارات خود مبني بر ستراتیژي ناتو براي خروج نیروها در سال ۲۰۱۴ تاکید کند.
چند روز پس از کشته شدن چهار نظامي فرانسوي توسط یک سرباز افغان، سارکوزي اعلام کرد، نیروهاي این کشور در سال ۲۰۱۳ از افغانستان خارج مي‌شوند و از سایر کشورهاي عضو ناتو نیز خواست تا تقسیم اوقات خود را تغییر دهند.
یان برژنسکي، از مقام‌هاي سابق پنتاگون در دوران ریاست جمهوري جورج بوش اظهار کرد: تصمیم غیرمنتظره سارکوزي بیانگر یک اقدام یک‌طرفه و تکان‌دهنده بود که چالشي واقعي براي رهبري ناتو و بارک اوباما، رئیس جمهور امریکا محسوب مي‌شود.
با وجود اینکه سارکوزي تلاش کرده تا روابط پاریس-واشنگتن را بهبود بخشد اما تصمیم اخیر وي براي خروج زودهنگام نیروهاي فرانسوي از افغانستان، باعث بي‌اعتمادي سایر متحدین به پاریس شده است.
جفري لایت‌فوت، معاون رئیس برنامه امنیت بین‌المللي شوراي اتلانتیک گفت: یکي از دستاوردهاي مهم سارکوزي ترمیم و بهبود وجه فرانسه در لندن و واشنگتن است.
این مقام مسئول افزود: تصمیم فرانسه براي خروج زودهنگام نیروها از افغانستان، براي طالبان یک پیروزي تبلیغاتي قابل ملاحظه است و باعث مي‌شود که این شورشیان سایر نیروهاي اروپایي در افغانستان را هدف حملات خود قرار دهند.
روزنامه وال استریت ژورنال نیز در گزارشي نوشت: منصفانه نیست که تمام تقصیرها متوجه سارکوزي باشد چراکه وي تنها تلاش مي کند نیروهاي فرانسوي را پیش از خروج تمام نیروهاي ناتو، از افغانستان بیرون ببرد.
مایکل اوهانلون، از موسسه بروکینگز گفت: خروج زودهنگام نیروهاي فرانسوي از افغانستان نقش مهمي را در چگونگي واکنش سایر نیروهاي ائتلاف در خروج از افغانستان ایفا مي کند. مساله مهم چگونگي کاهش نیروهاي فرانسوي در سال ۲۰۱۳ است. اگر اکثر این نیروها در سال ۲۰۱۳ در این کشور باقي بمانند، مساله مهمي نخواهد بود اما اگر ۳۶۰۰ تن از این نیروها، احتمالا در سال آینده از افغانستان خارج شوند، این امر مي‌تواند به برنامه خروج نیروهاي ناتو در سال ۲۰۱۴ ضربه بزند.

شک و تردید در مورد اهداف ...

همکاری های دو جانبه میان دو کشور، مبارزه با تروریزم و تلاش های صلح در افغانستان بحث و گفتگو می کند.
رفیع الله گل افغان معاون دوم مشرانو جرگه به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت، اگر پاکستان به سیاست دوگانه اش در قبال افغانستان ادامه دهد، ممکن تلاش های صلح به خطر مواجه شوند:
"پاکستان در سه دهه جنگ به اثبات رساند، چیزی را که مردم افغانستان می خواهند، مردم پاکستان نسبت به آن صادق نیستند و حکومت پاکستان صادقانه عمل نکرد.
پاکستان امروز در صلح و نا امنی های افغانستان دست بالا دارد و هر وقت مداخله کرده است.
اگر به طور صادقانه خواهان تامین صلح در افغانستان باشد، به زودی صلح در افغانستان تامین می شود."
با آنکه معلوم نیست خانم ربانی با چه پیامی به کابل می آید، اما به گفته آگاهان امور، کابل و اسلام آباد هراس دارند که مبادا از گفتگو های قطر هم چنان دور نگهداشته شوند.

ناتو همچنان به برنامه قبلی خروج...

خود براي خروج کامل از افغانستان تا پایان سال ۲۰۱۴ پایبند است.
این مقام ناتو در ادامه افزود: برنامه‌هاي ما طبق چیزي که در نشست ناتو در لیزبون در سال ۲۰۱۰ در مورد آن توافق شد، انجام مي گیرد.
راسموسن در ادامه گفت: این که نقش ناتو در افغانستان از اواسط سال ۲۰۱۳ از نیروي جنگي به یک نیروي کمکی و حمایتي تبدیل شود، چیز جدیدي نیست.
باسسکو هم در این دیدار گفت که کشورش از اواسط سال ۲۰۱۳ اقدام به خارج ساختن نیروهایش از افغانستان مي کند.
وي گفت: بعد از این تاریخ، تمرکز نیروهاي نظامي روماني نیز روي آموزش نیروهاي پولیس محلي افغانستان خواهد بود.

له طالبانو سره د امریکا ...

ده وویل، د دې دفتر د پرانستلو لپاره باید طالبانو له نړیوالې ترهګرۍ سره د خپلې اړیکې پرې کړي او د افغانانو ترمنځ له خبرو نه ملاتړ وکړي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

افغان دولت هڅه کوي له طالب مشرانو سره په سعودي کې وګوري

په سعودي عربستان کې د خبرو اساسي هدف دا دی چې افغان حکومت د سولې په پروسه کې مخکښ رول ولوبوي

والسټریټ ژورنال:
والسټریټ ژورنال ورځپاڼې په سعودي عربستان کې د افغانستان د دولت او طالبانو ترمنځ د خبرو پرمسالې یوه لیکنه خپره کړې او د پیل په کرښو کې لیکي، افغان چارواکي وایي، چې دوی په پام کې لري، چې په نژدې راتلونکې کې د طالبانو له استازیو سره په سعودي عربستان کې وګوري، چې د ورځپاڼې په وینا دا د افغان ولسمشر حامد کرزي د حکومت له خوا یوه هڅه ده، چې غواړي د سولې په پروسه کې مخکښ رول ولوبوي.
یوه افغان چارواکي چې نوم یې نه دی ښودل شوی، دې ورځپاڼې ته ویلي، چې په سعودي عربستان کې د دغو خبرواساسي هدف دا دی، چې د ولسمشر کرزي حکومت په هره معامله کې مهمه ونډه ولري او زیاتوي سعودي عربستان په خبرو کې یو مهم لوبغاړی دی او اوس او تیرو وختونو کې یې د خبرو لپاره زمینه برابره کړې ده.
والسټریټ ژورنال ورځپاڼې د افغان چارواکو په وینا لیکي چې سعودي عربستان له طالبانو سره د تماس ټینګولو لپاره د راتلونکې غونډې لپاره منځګړیتوب کړی خو طالبانو تراوسه په دې اړه چې څوک دې غونډې ته واستوي، پریکړه نه ده کړې او نه هم تراوسه په دې اړه چې دغه خبرې څه وخت ترسره شي، موافقه حاصل شوې.
طالبانو څه موده وړاندې په قطر کې له امریکا سره د خبرو مساله تایید کړه، خو دا چې غواړي له افغان دولت سره په سعودي عربستان کې هم خبرې پرمخ یوسي په دې اړه یې د خپروشویو راپوررونو په اړه دریځ نه دی څرګند کړی.
د ورځپاڼې په وینا طالبانو دا خبره په ډاګه نده تایید کړې، چې غواړي د کرزي له حکومت سره خبرې وکړي، ځکه هغه د امریکا لاس پوڅی حکومت بولي خو امریکایي چارواکو له طالبانو سره نورې

غونډې څنډولې او هغوی ته یې ویلي، چې ترهغو پورې به بیا له دوی سره کېښني، چې دوی له افغان چارواکو سره د خبرو په اړه موافقه نه وي کړې.

ډیلي ټیلیګراف:
ډیلي ټیلیګراف ورځپاڼې افغانانو د امریکا له خوا د افغان امنیتي ځواکونو د مالي مرستو د کمولو پر وړاندې خبرداری ورکړی، ترسرلیک لاندې یومطلب خپور کړی او لیکي، امریکایي ډیپلوماتانو ویلي، چې د افغانستان له امنیتي ځواکونو څخه د امریکا مالي ملاتړ دوام نه شي راوړی او له دې هیواده د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سم باید دغه مرستې هم کمې شي.
ډیلي ټیلیګراف په ناټو کې د امریکا د سفیر ایو دالډر له قوله لیکي، چې ویلي یې دي، د افغان ملي اردو او پولیسو اوسنی تشکیل یوموقتی تشکیل دی او هغه څکه پراخ شوی، چې وکولای شي، د وسله والو مخالفانو د فعالیتونو مخه ونیسي.
د ده په وینا اوس موږ د روان کړکیچ په نیمایي کې یو، ایا په همدې تشکیل یوه ځواک ته اړتیا لرو او که په کم تشکیل هم کولای شو، چې ټاکلی هدف ترلاسه کړو.
دالډر هیله وښوده، چې په راتلونکو دو دریو کلونو کې به امنیتي وضعیت بل ډول وي او د امساله د درک وړده، چې هغه مهال کیدای شي، چې د افغان امنیتي ځواکونو شمېر راکم شي او دونیم سوه زره کسیز ځواک ته ورسیږي.

خو د یوې پوښتنې په ځواب کې چې که طالبان دغه شرایط ونه مني، د امریکا د سفیر مرستیال وویل، چې بیا به د سولې خبرې ګټورې نه وي.
ښاغلي کننګهم همداراز په دې اړه بې خبري وښودله، چې ګواکې ټاکل شوې په سعودي عربستان کې هم د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې پیل شي.
خو نوموړي وویل، دوی په بېلابېلو ځایونو کې د خبرو په اړه کومه ستونزه نه وني:
"موږ به د هر هغه څه ملاتړ وکړو، چې د افغانستان حکومت غواړي پر مخ یې یوسي. زه په دې اړه کوم دلیل نه لرم، چې خبرې ولې په څو ځایونو کې ترسره کېدای نه شي او موږ به خپلو مرستو ته ادامه ورکړو، چې هر چیرته ممکن وي د اړیکو چینل پرانستل شي."
په سعودي عربستان کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د ممکنه خبرو راپوررونه په رسنیو کې ورکړل شول؛ خو تراوسه پورې په رسمي توګه د افغان چارواکو له خوا نه دي تایید شوي.
طالبانو هم په دې اړه تبصره نه ده کړې، خو پخوا تردې یې د افغانستان د جګړې اصلي لوری امریکا او د هغې متحدین بللي او یوازې یې له دوی سره له خبرو ملاتړ سودلی دی.
که طالبان چې تراوسه یې له افغان دولت سره خبرې رد کړي دي، په دې اړه خپل دریځ نرم کړي، نو دا به د سولې په روانو هلو خلو کې یو لوی پرمختګ وبلل شي.

واردات گاز های مضره به افغانستان منع شده است

کابل، رسانه ها:
اداره ملی حفاظت از محیط زیست افغانستان می گوید، واردات گاز های مضره را که بیشتر در یخچال ها و سردخانه ها از آن کار گرفته می شود، به کشور منع کرده است.
اداره ملی حفاظت از محیط زیست افغانستان می گوید، قرار است برنامه از بین بردن گاز های مضره در افغانستان در سه مرحله عملی گردد که مرحله نخست آن تا سال ۲۰۲۰ میلادی دوام خواهد کرد.
عبدالولی مدقق معاون پالیسی و ارتباط خارجه اداره ملی حفاظت از محیط زیست به روز سه شنبه در یک نشست خبری در کابل گفت که آنان کوشش می کنند تا در این مدت واردات گازات مضره را در کشور ۳۵ درصد کاهش دهند.
"ورود گاز هایی ابتدایی موسوم به "سی،اف،سی" به کشور منع است و ما در این بخش با ریاست گمرکات یکجا کار می کنیم و پلانی را که حالا مشاهده کردید یک پلان درازمدت است که برای تمام جهان ترتیب شده که باید الی سال ۲۰۴۰ از این گاز ها استفاده نشود.
این برنامه ی ما امروز آغاز گردید و پلان اختصاصی داریم که به اساس آن انشاالله استفاده از این گاز ها را در کشور خود منع قرار خواهیم داد."
هایدور کلورو و فلورو کاربن که در شماری از یخچال ها و ماشین های سرد کننده استفاده می شود، به اساس معلومات اداره ملی حفاظت از محیط زیست استفاده از این گاز ها سبب از بین بردن قشر اوزون می گردد.
اداره، ملی حفاظت از محیط زیست همچنان هشدار می دهد که اگر استفاده از این گاز ها کم و یا منع نگردد، سبب بلند رفتن حرارت زمین و گسترش بیماری های مختلف می شود.
باز هم عبدالولی مدقق در مورد گفت:
"این که چگونه جلو گیری کرد، باید گفت که آنعده از فعالیت های بشری را که سبب تخریب قشر اوزون گردیده کنترول کرد که تقریباً ۹۶ نوع گاز در جهان وجود دارد که باعث تخریب قشر اوزون می گردد و استفاده از آن در کشور ها باید کاهش یابد.
کشور هایی که این گونه گاز ها را تولید می کنند در تخریب قشر اوزون سهم عمده دارند."
استفاده از گاز های مضر نه تنها در افغانستان بلکه در شمار دیگر از کشور ها نیز نگرانی هایی را ایجاد کرده است.
گفته می شود این گاز ها سبب ایجاد بیماری های جلدی مانند سرطان نیز در نزد افراد شده می تواند.

دغه رنګ مو تاسې ګوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

ډیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com